هېواد

۴ مخ

2 017550 139621

مسیر

ورځپانه


نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ ۱۷مه | د ۲۰۱۹ د جولای اتمه | درېیم کال| ۴۰۰مه ګڼه


## برونی

بهرنۍ او کورنۍ پانګه اچونه، مناسب دولتي مقررات، د ټولنیزې هوساینې لپاره ګړندي ګامونه، کلیوال عنعنوي چاپېریال او همدا راز د اومو تېلو او طبیعي ګازو صادرات د دغه هېواد په اقتصاد کې غټه ونډه لري.



## په غزني کې د ۳۳ میلیونو افغانیو په لګښت د ښوونځیو ودانۍ جوړېږي



په غزني ښار او د دغه ولایت په زنخان ولسوالۍ کې د ۳۳ میلیونو افغانیو په لګښت د ښوونځیو جوړولو چارې پیل شوې دي.


د دغه ولایت د والي د ویاند محمد عارف نوري په خبره، د ۲۱ میلیونو افغانیو په لګښت د زنخان ولسوالۍ په خالد کوتل سیمه کې د یوه ښوونځي د جوړېدو چارې پیل شوې دي. هغه وایي چې دغه ښوونځی به ۱۴ تدریسي ټولګي، اداري خونې، د څښاک اوبه، تشنابونه او نور ملحقات ولري.

نوموړی زیاتوي: «په دغه مکتب کې به اووه سوه شاګردان درس وایي، چې له دې مخکې به لمر او باران ته ناست وو».

د دغه ولایت د چارواکو په خبره، دویم ښوونځی د غزني ښار په امیرمحمد خان کلا کې د ۱۲ میلیونو افغانیو په لګښت، چې اته سوه نجونې به پکې زده کړې کوي، جوړېږي.

# د سولې خبرې او خونړۍ جګړه؛

## ځانمرګي برید په غزني ښار کې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله واړوله







۳

### د پاکستان او امریکا تر منځ نوی جوړښت!

۳ مخ

### د سولې وزارت او په افغانستان کې د سولې د چارو راتلونکی

۲ مخ

### د سولې له خبرو سره پر یوه وخت په وحشتونو کې سیالي

۲ مخ

## د دوحې غونډې ګډونوال: ډېر ژر به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرې پیل شي

تر مسکو وروسته په دوحه کې د افغاني پلاوي او طالبانو ترمنځ د درېیمې بین‌الافغاني ناستې لومړۍ ورځ چې د قطر او جرمني په کوربه توب جوړه شوې وه، تر سره شوه.

په دې ناسته کې پر طالب چارواکو سربېره، د افغان پلاوي له ډلې افغان سیاستوالو، مېرمنو او د مدني ټولنې او د ملي شورا ځینو غړو ګډون کړی دی. د دې غونډې پرانیستونکي وینا ته د طالبانو د قطر دفتر مرستیال عباس ستانکزي په افغانستان کې د نظام جوړولو په تړاو د غونډې ګډونوالو ته ویلي، چې په افغانستان کې د بشپړ واک د تر لاسه کولو لپاره هڅه نه کوي.

د طالبانو د قطر غړو ویلي، وروسته له هغې چې له امریکا سره بریالي مذاکرات وکړي، د افغانستان په راتلونکي نظام کې به ښځو ته د کار او تعلیم اجازه ورکړي. د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي: «د افغانانو کوم اساسي، بشري او انساني حقوق چې دي، په هغو ټولو به په بین‌الافغاني مذاکراتو کې بحث او خبرې کېږي، د هغو لپاره دې هېڅوک اندېښنه نه کوي». په ورته وخت کې د دوحې ناستې ځینې ګډونوال وایي، چې د دې ناستې پایلو ته هیله من دي. دوی وایي، هیله لري چې د دغو مذاکراتو پایلې به د حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو د پیل سبب شي. د دغې غونډې ګډونوال عزیزالله دین محمد ویلي: «په دې ناسته کې هر چا خپل نظر شریک کړ، طالبانو خپل نظر وویل او افغاني پلاوي خپل نظر. موږ هیله لرو چې دغه ناسته به د حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ ناستې ته زمینه برابره کړي». ټاکل شوې چې د افغان پلاوي او طالبانو ترمنځ دغه غونډه نن د یوه پرېکړه لیک په خپرولو پای ته ورسېږي.

## دا ځل له طالبانو سره پر بین‌الافغاني مذاکراتو او اوربند هم پرمختګونه شوي دي




۲ مخ

## امنیت ملی گروه چهار نفری به اتهام داعش در کابل بازداشت کرده است

ریاست عمومی امنیت ملی می گوید که نیروهای قطعات خاص این اداره، در یک عملیات هدفمند، یک شبکه گروه داعش را که مسئولیت جلب و جذب و سازماندهی حملات تروریستی و تخریبی را به‌عهده داشتند، از مربوطات شهر کابل بازداشت نموده اند. در یک خبرنامه که از طرف ریاست امنیت ملی منتشر شده آمده‌است، که افراد بازداشت شده؛ شامل مبشر مسلمیار فرزند عبدالحلیم استاد پوهنتون کابل مسئول جلب و جذب، احمدطارق فرزند جنت گل، احمد فاروق فرزند جنت گل فارغ التحصیل پوهنتون کابل اعتراف نموده اند که توسط ظاهر (داعی)، محمد معروف (راسخ)، مبشر(مسلمیار) و ابو عبیدالله متوکل به گروه داعش جلب و جذب گردیده بودند.

همچنان آنان افزوده اند که نامبرده گان، نخست جوانان و محصلین پوهنتون‌ها را به سلفیت و از آن طریق به گروه تروریستی داعش جذب می‌نمودند. در خبرنامه آمده‌است که یک تن از بازداشت شده‌گان که سه سال قبل توسط استادان مذکور به گروه داعش جذب و به ولایت ننگرهار فرستاده شده بود، اظهار نموده که شاگردان بی شماری از مبشر مسلمیار، ظاهر داعی، معروف راسخ و ابو عبیدالله متوکل به‌طور دوامدار به ولایت ننگرهار آمده و در صفوف گروه تروریستی داعش فعالیت می‌نمودند. در خبرنامه آمده است که دو تن از این تروریستان بازداشت شده، احمدطارق و احمد فاروق فرزندان جنت گل، در سازماندهی حملات تروریستی ذیل نقش فعال داشتند. قابل یادآورست که ابو عبیدالله متوکل مسئول جلب و جذب گروه تروریستی داعش، قبلاً توسط ریاست عمومی امنیت ملی، از مربوطات شهر کابل بازداشت گردیده بود.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019



Easy English Learning

+93 (0) 789 98 9696

Shigal English Academy

www.shigal.edu.af

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### د سولې له خبرو سره پر یوه وخت په وحشتونو کې سیالي

په وردگو کې خلکو د گډو ځواکونو له خوا د وژل شوو ملکي وگړو، ښځو، ماشومانو او نورو بې گناه وگړو ویر کاوه چې په غزني کې وسله والو طالبانو هم په یوه برید کې ملکي وگړو ته پراخه مرگ ژوبله واړوله. د برید په شاوخوا سیمه کې ملکي وگړي او یو ښوونځی و، چې همدې چارې د ماشومانو او نورو بې گناه وگړو مرگ ژوبله زیاته کړه. تر دې وړاندې هم په کابل کې د طالبانو په برید کې له دې امله د ملکي وگړو مرگ ژوبله زیاته وه، چې د برید شاوخوا د استوگنې سیمې وې. په کلیو او باندېو کې خو بیا گډ ځواکونه یو مخ ملکي وگړي وژني چې تر ډېره د رسنیو او فعالینو له سترگو پټ وي او یا هم په قصدي او شعوري ډول نه رسنیز کېږي.

د سولې د خبرو په روان پړاو کې دواړه لوري غواړي ځان په نظامي ډگر کې پیاوړی وښیي. له همدې امله بریدونو ته زور ورکوي، خو دا نه گوري چې د دوی د بریدونو اصلي قربانیان څوک دي. د ښځو، ماشومانو او نورو بې گناه وگړو په وژلو سره د زور ښودل نه کوم اسلامي کار دی او نه هم کوم افغاني او انساني کار. د ښځو او ماشومانو وژل د کمزورو، ډارنو، بې اصولو او وحشي خلکو کار دی چې په هېڅ ډول نه توجیه کېږي. ځینې دا کار د تېروتنې یا بلې پلمې پر اساس توجیه کوي چې دا خپله جنایت او وحشت ته مشروعیت ورکول دي. په کلي او کور کې چې ښځې، ماشومان او نور بې گناه وگړي پکې اوسیږي، بمباري او هوایي بریدونه تېروتنه نه ده، بلکې په قصدي ډول د ملکیانو وژنه ده. د یو یا څو طالبانو لپاره د ټول کور یا کلي بمبارول او نړول یوازې وحشت دی او بس. همداسې د خلکو د استوگنې او گڼې گوڼې په ډکه سیمه کې پر یوه نظامي یا بل هر هدف برید وحشت دی. پر هر هدف برید دا وحشت نه شي توجیه کولی. دا خبره چې گواکې خلک دې له دغو مرکزونو لرې وي، غیر عملي ده او یوازې وحشت ته توجیه پیدا کول دي. په دې ډول دواړه لوري د ملکیانو پر وړاندې په ډېر بې توپیره چلند کوي او د ښځو، ماشومانو او نورو بې گناه وگړو په وژلو سره غواړي خپلو سیاسي موخو ته ورسیږي. ښکېل لوري چې د ملکي وگړو د خوندیتوب کومې چیغې وهي، واقعیت دا دی چې دا تش شعارونه دي او دوی ته د ملکي وگړو ژوند هېڅ ارزښت نه لري.

که د سولې خبرې د دې لپاره وي، چې دا جگړه ختمه شي او دا خبرې بریالۍ کېږي، نو دا د جگړې وروستۍ ورځې دي. په وروستیو ورځو کې څوک له مخالفینو سره دومره وحشت نه کوي، خو دلته ښکېل لوري له ملکي وگړو سره دومره وحشیانه او ظالمانه چلند کوي چې دا په هېڅ ډول نه توجیه کېږي. دوی باید پوه شي چې له سولې وروسته له همدې خلکو سره اوسیږي او له همدې خلکو به د سیاسي ملاتړ تمه لري. که دوی رښتیا افغانان وي او په همدغه هېواد کې ژوند او اوسېدل غواړي، نو پکار ده چې د وحشتونو دا سیالۍ پرېږدي او د خلکو د خوندیتوب لپاره عملي گامونه واخلي.

# د سولې وزارت او په افغانستان کې د سولې د چارو راتلونکی

لیکنه: مشتاق رحیم

افغان حکومت د سولې د چارو د لا ښه تنظیم لپاره د سولې وزارت په نامه نوی جوړښت اعلان کړی. پلمه دا وه چې د لویې جرگې غوښتنه وه، خو هیله ده چې همدا پلمه د سولې په برخه کې د ادارو او د سولې د چارو ستراتېژیک لید د اصلاح لپاره وکارول شي. له بده مرغه له کومې ورځې چې په افغانستان کې سوله د سیاسي اجنډا برخه گرځېدلې چې په لړ کې یې د سولې شورا را منځته شوه، له دې پروسې سره له تخنیکي زیات سیاسي چلند شوی. یا په بل عبارت، د سولې شورا تر ډېره د سیاسي رشوت ورکونې یو آدرس گرځېدلې ده. دا چې اوس د افغانستان حکومت ظاهراً د دغه بهیر د اصلاح په تکل کې دی، د سولې وزارت باید له یو پراخ ستراتېژیک لید سره دغه پروسه تر کار لاندې ونیسي.

د اصلاحاتي کارونو په لړ کې باید د سولې شورا له منځه یووړل شي. زما انگېرنه دا ده چې دا کار به هرو مرو کېږي او یادونه به یې لازمه هم نه وي، خو دا چې موږ په افغانستان کې د موازي ادارو مخینه لرو، اړینه ده چې دا نکته په لومړي سر کې د ټینگار په پار ذکر شي. کله چې د سولې شورا د انحلال خبره کېږي، نو مطلب یې دا دی چې غړي یې باید تر کوم بل نوم لاندې د سولې وزارت اړوند پاتې نه شي او له دې لارې دا جوړښت د امتیاز اخیستنې آدرس ونه گرځي. د سولې په اړه په ملي کچه د مشورې لپاره باید ولسمشر یو عالي مشورتي بورډ جوړ کړي، زه فکر کوم دا کفایت کوي. په ټوله کې د لارې نقشه هم لویې جرگې وړاندې کړې. که بیا هم مشورو ته اړتیا کېږي، د ولایتي ادارو په مرسته کېدای شي غونډې جوړې او نظریات را ټول شي او هم په مرکز کې سترې ناستې برابرې شي. همدا راز، دا چې د سولې شورا ډېری غړي هممهاله د حکومت په بېلابېلو برخو کې دندې لري، د اړتیا په وخت کې د دوی له ورتیاوو څخه بیا هم گټه اخیستل کېدای شي.

همدا راز زما په اند، د سولې عالي شورا دارالانشا دې د سولې وزارت برخه وگرځول شي. ورسره دې هغه ځانگړې کمېسیون چې له حزب اسلامي سره د سولې د تړون لیک د پلي کولو دنده په غاړه لري، هم د سولې وزارت برخه وگرځول شي چې دا به په ټوله کې د جوړښتونو د انسجام بهیر تکمیل کړي.

د سولې په وزارت کې دې یوه وړه، متمرکزه؛ خو مسلکي، کدري کاري ډله پر کار وگومارل شي. زما په اند، په ټوله کې له ۷ تر ۱۰ پورې کارپوه کدرونه او ورسره په ټوله کې له ۱۵ تر ۲۰ پورې همکار کدرونه پکار دي. کېدای شي تر پنځو اداري کارکوونکي واوسي او نور د اړتیا سره سم خدماتي کار کوونکي.

د اداري اصلاح ترڅنگ، کاري اصلاح ته هم جدي اړتیا ده. د سولې وزارت دې د سولې ستراتېژۍ ته بیا کتنه وکړي او یوه هر اړخیزه ستراتېژي دې جوړه کړي. دغه اداره باید په ټوله کې یوه پالیسي سازه اداره شي او په خاصو مواردو کې دې اجرایوي دنده مخ ته یوسي. له بده مرغه تر اوسه د افغانستان حکومت او په ځانگړې توگه د سولې شورا، تر ډېره بریده د سولې پر کولو (Peace-making) باندې متمرکزه وه او ټوله هڅه یې دا وه چې څنگه په لویه کچه له مخالفینو سره سیاسي جوړجاړي ته ورسېږي. دا په داسې حال کې ده چې هېواد مو څه د پاسه څلور لسیزې په جگړو کې ښکېل و چې د یادو جگړو هر پړاو د افغاني ټولنې لپاره بېلابېلې بدمرغۍ زېږولې دي. ټولنې مو خپل ټولنیز یووالی (Social integration) بایللی دی، هېواد مو د جگړې او پس له جگړې هېوادونو په درشل کې ولاړ دی، د تاوتریخوالي کلتور پکې عام دی او د نه زغم له رنځه کړېږي. د دغو ټولو ستونزو د حل لپاره باید د سولې وزارت د پالیسي په کچه د کار کولو دنده ولري.

د سولې وزارت لپاره اړینه ده چې د شخړو د مدیریت (Conflict Management) ټولو اړخونو ته ځواب ورکوونکی و اوسي. بې له شکه چې د چارو غوښتنه برخه به د لویې کچې د سیاسي بحث یعنې له طالبانو سره د سولې د بهیر مخ ته وړل یا سوله کول وي، خو همهاله باید د سولې د چارو نورو برخو ته هم جدي کار وشي. په دې لړ کې افغانستان د سولې ضد خطرونو په وخت سره خبر ورکولو سیستم (Early Warning System) باید جوړ او پر کار واچول شي. هغه هېوادونه چې د کمزورو هېوادونو (Fragile State) په نوم یادېږي، هلته د دغه ډول سیستم درلودل حتمي او ضروري دي. دا سیستم په دوامداره توگه د هېواد دننه او د باندې چارې څاري او شننه کوي څو هغه مسایل چې د هېواد ټیکاو ته خطر پېښولی شي، په وخت سره را برسېره او د هېواد له مشرانو سره د وقایوي اقداماتو په موخه شریک شي.

همدا اوس افغانستان د تونددلارېتوب د پدیدې ښکار دی، آن د مذهبي ډلو ترمنځ د وژنو تر بریده شخړې د هېواد په بېلابېلو برخو کې اوج ته رسېدلې دي. له دغه ډول پدیدو سره د مقابلې لپاره اړینه ده چې د پالیسي په کچه په وخت سره پروگرامونه او چارې تر سره شي.

افغانستان په ځینو جدي قومي او توکمیزو شخړو کې هم را ښکېل دی. په دې لړ کې د هزاره جاتو د ځمکو پر سر د کوچیانو او هزاره توکمو، په لویه پکتیا کې د قومونو (توتاخېل او منگل، ځدراڼ او مقبلو) او د افغانستان په شمالي سیمو کې د پښتنو او تاجکو ترمنځ ځای ځای د کړکېچونو له کبله په تېر کې ډېرې جدي ستونزې ایجاد شوې دي، چې دا ستونزې لا هم شتون لري. د دغه ډول شخړو د حل لپاره د افغانستان حکومتونو وخت ناوخت موقتي گامونه پورته کړي، خو د دایمي حل په موخه تر اوسه کار نه دی شوی. د سولې وزارت باید د دغه ډول مسایلو د حل لپاره هم کار وکړي او د شخړو د حل په لړ کې باید د منځگړیتوب (Mediation) چارې مخ ته یوسي. دا ډېره مهمه ده چې دا ډول کوچنۍ شخړې حل شي څو په ټوله کې د ملت جوړونې پروگرام مخ ته یوړل شي.

د سولې د بهیر په لړ کې افغانستان په لومړي ځل د حزب اسلامي حکمتیار له ډلې سره د سولې تړون لیک په ۲۰۱۶ ز کال کې لاسلیک کړ چې دا بې ساری پرمختگ په افغانستان کې د رسمي سولې لومړی بېلگه وه. دا چې افغان حکومت په دې لړ کې کوم ځانگړی چمتووالی نه درلود، نو د سولې د تړون لیک د پلي کولو لپاره یو ځانگړی کمېسیون جوړ شو. یاد کمېسیون پرته له کوم چمتووالي او ځانگړیو کاري وړتیاوو چې د سولې په برخه کې کاري تجربه ولري، کار پیل کړ. دا چې داسې تمه شته چې په راتلونکي کې هم د سولې بهیر به د سولې په تړونونو لاسلیک شي، نو د سولې وزارت باید د سولې د تړونونو د پلي کولو په برخه کې هم سر له اوسه چمتووالی ونیسي. له حزب اسلامي سره تر سره شوې سولې د تجربو په رڼا کې، چې ما د جامع تحقیق په رڼا کې لا پخوا راټولې او خپرې کړې، باید د ستراتېژیکې کچې چمتووالی واوسي. په دې برخه کې د کاري کدرونو روزنه هم ډېره اړینه ده.

هره ټولنه چې له اوږدمهاله جگړې څخه را تېره شي، هغه ډېرې مودې ته اړتیا لري چې بېرته عادي حالت ته وگرځي او کله کله یوازې نسلي بدلون کولی شي د جگړې بدرنگه ټولنیزې نښې نښانې له منځه یوسي، خو د شخړو د مدیریت په لړ کې سوله جوړونه (Peacebuilding) یوه مهمه او دوامداره پروسه ده. په دې برخه کې د جگړې د وختونو د خواشینیو د رفع کولو، د ملت جوړونې، د ټولنیز پیوستون (Social Integration)، د سولې د کلتور د عاملو او ورته هلې ځلې تر سره کېږي. دا چارې باید د یاد وزارت د ستراتېژیکو لومړیتوبونو برخه و اوسي.

هغه هېوادونه چې شخړو ځپلي وي، هلته تل د شخړو او سولې د چارو کارپوهانو او کدرونو ته په لویه اندازه او په اوږدمهال کې اړتیا وي. له بده مرغه، سره له دې چې افغانستان څه د پاسه څلور لسیزې له شخړو سره لاس او گرېوان دی، اوسمهال د کدري وړتیاوو له کمښت سره مخ دی. په ځانگړې توگه، د سولې د چارو کارپوهانو شمېر ډېر کم دی. د دې لپاره چې دا اړینه تشه په هېواد کې ډکه شي، د سولې وزارت باید په هېواد کې د سولې په برخه کې زده کړو لپاره په پراخه پیمانه کار وکړي. دا کار د هېواد له دننه پوهنتونو سره په گډه پلي کول به خورا آسانه وي، خو یوه کارپوهه اداره باید په دې برخه کې دنده په غاړه ولري، څو تعلیمي اداري په دې برخه کې د کدرونو د روزلو چارې مخ ته یوسي.

افغانستان د خپل تاریخ په حساسو شېبو کې دی او له څه باندې څلورو لسیزو راهیسې مو هېواد د دې موکه تر لاسه کړې، چې له شخړو او کړکېچونو څخه د سولې لور ته وخوځېږي. په دې مرحله کې اړینه ده چې د سولې له بهیر سره په ټوله کې مسلکي او علمي چلند وشي، څو د سولې جوړونې بهیر په چټکۍ سره مخ ته یووړل شي. لازمه ده چې په دې اړه له نړیوالو تجربو زده کړه وشي او په افغانستان کې شته نړیوالې اداري په دې برخه کې د افغانستان له حکومت سره مرسته کولی شي. اړینه ده چې افغان حکومت له تېرو تجربو څخه زده کړه وکړي او د سولې په برخه کې د اصلاحاتو دا بهیر په رښتینې توگه تر سره کړي، که نه نو آن که له مخالفینو سره جوړجاړی هم وشي، ټولنه به مو د رښتینې او پایدارې سولې لور ته له اړین سفر څخه پاتې وي.

## خلیلزاد: دا ځل له طالبانو سره پر بین‌الافغاني مذاکراتو او اوربند هم پرمختگونه شوي دي

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي، چې دا ځل له طالبانو سره د بین‌الافغاني مذاکراتو او اوربند ترڅنگ، پر څلورو واړو موضوعاتو پرمختگونه شوي دي.

نوموړي دغه څرگندونې له طالبانو سره د اووم پړاو تر دوامداره شپږو ورځو خبرو اترو وروسته په یوه ټوېټ کې کړې دي.

هغه زیاته کړې چې له طالبانو سره د خبرو اترو د لړۍ له پیلېدو راهیسې دا ځل تر ټولو ډېرې گټورې خبرې شوې دي.

نوموړي ویلي : «دا ځل مو د سولې لپاره پر ټولو څلور واړو موضوعاتو د پام وړ پرمختگونه کړي، چې پکې د ځواکونو وتل، ترهگرۍ سره مبارزه، بین‌الافغاني مذاکرات او هر اړخیزه اوربند شامل دي».



هغه زیاته کړې چې د خبرو لړۍ په قطر کې د کېدونکې بین‌الافغاني ناستې د ملاتړ په موخه ځنډېدلې او په خبره یې چې دا ناسته د سولې پروسې لپاره ډېره مهمه ده.

د هغه په وینا، تر دې مخکې چې د سولې په اړه یوې هوکړې ته ورسېږي، باید ځینې نور کارونه هم تر سره شي.

بلخوا د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین هم په دغو خبرو کې د پرمختگ خبر ورکړی او ویلي یې دي چې دوی له شویو خبرو اترو راضي دي.

په ورته وخت کې د ولسمشر سلاکار وحید عمر تېره ورځ په کابل کې ویلي، چې زلمی خلیلزاد له روانو خبرو د افغانستان حکومت په جریان کې ساتي او ننه (پرون) یې هم له ولسمشر سره یو نیم ساعت ټلیفوني خبرې کړې دي.

د افغان سولې په تړاو دغه «بین‌الافغاني» غونډه چې ټاکل شوې نن پای ته ورسېږي، د ځینو اوسنیو او پخوانیو افغان چارواکو ترڅنگ، د سیاسي ډلو، ښځو، مدني ټولنو او طالب استازو په گډون پکې شاوخوا ۶۰ تنو گډون کړی دی.

د افغانستان او پاکستان لپاره د جرمني ځانگړي استازي مارکوس پوتسل چې له قطر سره یو ځای د دغې بین‌الافغاني غونډې کوربه دی، گډونوالو ته په وینا کې ویلي: «ستاسې هر یو به د دې فرصت او مسوولیت ولري چې قهرجنه مقابله د سولې پر بحث بدله کړئ».

# د پاکستان او امریکا تر منځ نوی جوړښت!

لیکنه: واحدګل هاشمي

د پاکستان د استخباراتي ادارې له لوري چې کله د حافظ سعید په مشرۍ د لشکرطیبه ډلې په ۲۰۰۸ زېږدیز کال کې د هند پر ممبی ښار برید وکړ، چې پکې شاوخوا ۱۷۰ کسان ووژل شول او په سلګونو نور ټپیان شول، هغه وخت د امریکا متحده ایالتونو او د هند دولت له پاکستان څخه وغوښتل چې د دې ډلې پر وړاندې باید جدي عکس العمل وښودل شي، خو برعکس د دې ډلې مشر به د پاکستان دننه په هرې سیاسي جلسې کې ګډون کاوه او له رسنیو سره به هم په ازاد ډول په بېلابېلو سیاسي پروګرامونو کې برخه اخیسته.

د سرچینو د معلوماتو له مخې، ویل کیږي چې دغه ډله د پاکستاني پوځ یا مشخصاً که وواېو د استخباراتو له لوري له هند سره د کشمیر په موضوع د لا فشار لپاره جوړه شوې او کارول شوې ده. د ځینو اسنادو او ثبوتونو له مخې، د پاکستان حکومت په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې د امریکا تر فشار او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د ترهګرو ډلو په نوملړ کې تر شاملېدو وروسته، د حافظ سعید د دوو خیریه موسسو (فلاح انسانیت او جماعت‌الدعوه) فعالیتونه هم وځنډول. له دغو دوو خیریه بنسټونو په استفادې به د دې ډلې مشر د هند پر وړاندې د کوچنیو او لویو بریدونو لپاره مالي پنډ برابراوه.

له دې ټولو سره سره، د امریکا متحده ایالتونو یو وخت د هغو شواهدو په بدل کې چې د حافظ سعید د محکومېدو سبب شي، د لسو میلیونو ډالرو په ارزښت د جایزې اعلان هم کړی و. د دې موضوع د لا وضاحت او مستند کېدو په موخه باید یادونه وکړو چې یو وخت په لندن کې مېشت جلا وطن بلوځ بېلتونپاله مشر نوابزاده حیربیار رسنیو ته په خبرو کې ویلي وو، چې د پاکستان استخباراتي اداره د بلوځو او پښتون قوم د وژنې لپاره د ځینو غیر قانوني وسلوالو ډلو یا د ده د خبرو په حواله «د ترهګرو» ملاتړ له ځان سره لري، څو د خپلو هدفونو لپاره ترې ګټه واخلي.

راځو مهمې مسئلې ته چې پاکستان څنګه له متحده ایالتونو سره جوړښت کړی؟ د دغې ډلې پر وړاندې پاکستاني نظام هېڅ وخت جدي اقدامات نه دي کړي. مثلاً، سره له کره شواهدو چې د هند دولت وړاندې کړي، نوموړی په ځلونو په خپل کور کې د پاکستاني دولت له لوري نیول شوی چې بیا بېرته له کومې ستونزې د دغه هېواد د محکمو له لوري په ډېرې اسانۍ خوشې شوی دی. تازه د پاکستان دولت اعلان کړی چې د سعید او د هغه د ۱۲ همکارانو پر وړاندې یې ۲۳ دوسیې پرانیستې، چې د چندې ټولولو له پنځو بنسټونو په استفاده یې د لشکرطیبه ډلې لپاره پیسې برابرولې. دلته نو دا پوښتنه پیدا کېږي چې ولې مخکې پاکستاني یا پنجابي نظام د دغو خلکو پر وړاندې دغه ډول چلند نه کوي، سره له دې چې هېڅ کوم نوی ثبوت نه دی وړاندې شوی؟

ځواب ډېر واضح دی. په ورته وخت کې چې د ګوتو په شمار ورځې نه دي تېرې شوې، د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د جولای په دویمه ویلي چې د بلوچستان د ازادۍ پوځ یا بي. اېل. اې تر ډېره د پاکستان په جنوب لوېدیځ کې په بلوځ مېشتو سیمو کې امنیتي ځواکونه او ملکیان په نښه کوي، چې له همدې امله یې دغه ډله یو تروریستي ډله وبلله. بلوځان هم د کوزې پښتونخوا د پښتون قوم په څېر چیغې او سورې وهي چې زموږ زیاتره د خبرو خلک او قومي مشران د پاکستان استخباراتي ادارې وژلې دي. د دې تر څنګ، بلوځان ځکه نن تروریستان بلل کېږي چې یوازې د خپل حق ناره یې پورته کړې. د بېلګې په ډول، دوی تل دا ویلي چې د ګوادر بندر، د سرو او سپینو زرو سېندک پروژې، د سون ګاز او د ټولو طبیعي زېرمو ګټه یوازې پنجاب لوټ کړې ده او دوی ته یې هېڅ خیر نه دی رسېدلی.

پر دې سربېره، د دغو خلکو ګنا دا ده چې یوازې دومره یې خپل غږ پورته کړی چې د دوی سیمې ته باید په عایداتو کې ونډه ورکړل شي، څو سیمه یې پرمختګ وکړي. باوري اوسئ که څوک له دې سیمې سره لږ هم بلد وي، دا به ورته له وړاندې روښانه وي چې سره له دې چې دا وګړي په خپله سیمه کې زیاتې طبیعي زېرمې لري، خو وګړي یې د پنجابي نظام له امله ډېر بې وزله او غریب پاتې شوي دي.

مهمه موضوع دا ده چې امریکا دې ته د پاکستان لپاره مشروعیت ورکړ چې د بلوچستان د ازادۍ غوښتونکې ډله تروریستان دي او باید وځپل شي چې په همدې بدل کې به پاکستان د حافظ سعید او د هغه د ۱۲ همکارانو پر وړاندې ۲۳ دوسیې پرانیزي، چا چې د چندې ټولولو له پنځو بنسټونو په استفادې د لشکرطیبه ډلې لپاره پیسې برابرولې.

# د سولې خبرې او خونړۍ جګړه؛

## ځانمرګي برید په غزني ښار کې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله واړوله



سره له دې چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او افغان سیاسي څېرو ترمنځ د سولې په اړه بین‌الافغاني غونډه جوړه شوې ده، خو په غزني او ځینو نورو ولایتونو کې خونړۍ پېښې شوې دي. همدا تېره ورځ د غزني د ښار سکون یوې قوي او بوړنوونکې چاودنې له منځه یووړ. سهار خلک نوي د هڅیو په لور خوځېدلي وو، ښوونځیو کې تدریس پیل شوی و، چې د چاودنې بوړنوونکي غږ هر څه ګډوډ کړل. د غزني ښار یې په وینو ولاړه او ثابته یې کړه چې د جګړې غږ لا هم په ښارونو کې شته دی. طالبانو د برید مسوولیت ومانه او ادعا یې وکړه، چې د ملي امنیت ریاست پورې اړوند یو ریاست یې په نښه کړی دی.

ویل کېږي چې د ملي امنیت ریاست یو کوچنی کنډک په یوه کور کې پروت و. وسله والو طالبانو پر همدې کور د موټر بم برید کړی دی. په سیمه کې هټۍ، کورونه، ملکي ادارې او دوه ښوونځي هم وو. ښوونځي، کورونه، هټۍ او نورې ادارې په پېښه کې سختې زیانمنې شوې دي. په سیمه کې عیني شاهدان وایي چې د سیمې نږدې ټولو کورونو ته کم او زیات زیان اوښتی دی. د پېښې یوه عیني شاهد وویل، چې په پېښه کې د نوموړي د کورنۍ په ګډون، د سیمې د نورو کورنیو غړي هم ټپیان شوي دي. نوموړي ویلي: ((دوکان ته نوی رسېدلی وم چې لوګی پورته شو، بوړنوونکی غږ و، بېرته کور ته راغلم، د کاکا کور مې په بشپړه توګه ویجاړ شوی دی، څلور کسه ټپیان لرو. یو نارینه دی، دوه ماشومان او یوه ښځینه)).

د عامې روغتیا وزارت وایي چې د پېښې له سیمې ۱۴۹ ټپیان وروړل شوي دي چې ډېره برخه یې ملکي وګړي دي. په پېښه کې د څلورو ملکیانو په ګډون، ۱۲ کسان وژل شوي دي. د پېښې ډېره برخه ټپیان د چاودنې سیمې ته د نږدې ښوونځي زده کوونکي دي. دوی ډېری د غزني په ملکي روغتون کې تر درملنې لاندې دي او ځینې یې تر لومړنیو درملنو وروسته رخصت شوي دي.

وسله وال طالبان وایي چې په برید کې یې د ملي امنیت د ادارې ډېر کسان وژلي دي. خو عیني شاهدان بیا وایي چې تر ډېره ټپیان د ښوونځي زده کوونکي دي. د ښوونځي یوه زده کوونکي چې سر یې ترلی و، د لاس او مخ په برخه کې یې سخت ټپونه لیدلي وو، وویل چې پېښه خورا وحشتناکه وه. نوموړي وویل: ((دویم درسي ساعت مو پیلېده چې ډېر دروند غږ شو، بیا نه یم پوه شوی، خو په روغتون کې په هوښ شوم، زموږ د ښوونځي ډېر زده کوونکي دلته بستر دي)).

بل پلو په قطر کې له امریکایي لوري سره د طالبانو خبرې روانې دي، خو د بین‌الافغاني کنفرانس لپاره دوه ورځې ځنډول شوې دي. د چارو ډېری شنونکي پر دې باور دي چې طالبان د امتیاز اخیستلو په خاطر دغه ډول بریدونه کوي، خو په دې توګه دوی نه شي کولی د سولې په روانه پروسه کې امتیازات واخلي. دوی ټینګار کوي چې دغه ډول فعالیتونه به د سولې هڅې زیانمنې کړي او له دواړو لورو به د خلکو کرکه ډېره کړي.

# عراقچي: که نړیوال خپلې ژمنې پوره نه کړي، ایران به له اټومي تړونه په بشپړ ډول ووځي



ایران ویلي چې د ۲۰۱۵ ز کال په اټومي تړون کې له ټاکل شوي حد څخه یې د خپلو یورانیمو غني کول اړولي دي.

دا اعلان په داسې حال کې کېږي چې د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ تېر کال په یو اړخیز ډول له دغه تړونه د واشنګټن د وتلو او پر ایران د سختو بندیزونو د بیا لګولو اعلان وکړ.

د ایران د دولت ویاند علي ربیعي په تهران کې خبریالانو ته ویلي، چې سر له ننه به موږ د یورانیمو غني کول له ۳ اعشاریه اووه شپېته سلنې واړوو او د غلظت اندازه به یې هم زموږ د اړتیا پر اساس وي.

بلخوا د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت مرستیال عباس عراقچي خبریالانو ته ویلي، ایران په اټومي تړون کې له خپلو تعهداتو لرې کېدو ته دوام ورکوي.

هغه زیاته کړې: «د ایران اسلامي جمهوریت د تعهداتو د کمېدو بهیر، دقیقاً د تړون د خوندیتوب لپاره د ایران یو حرکت دی، نه د تړون د له منځه وړلو لپاره. که د تړون نور مشترکین ونه توانېږي خپلې ژمنې پر ځای کړي، دغه بهیر به ښایي په تړون کې زموږ د حضور د پای ته رسېدو سبب شي».

له ایران سره د شوي اټومي تړون نور لاسلیک کوونکي بریتانیا، چین، جرمني، فرانسه او روسیه دي چې دغه تړون ته تر اوسه ژمن پاتې شوي دي.

تر دې یوه ورځ مخکې د فرانسې ولسمشر ایمانوېل مکرون له خپل ایراني سیال حسن روحاني سره ټلیفوني خبرې کړې دي. هغه ویلي چې هڅه کوي د ایران او غربي شریکانو ترمنځ د ډیالوګ د دوام لارې چارې پیدا کړي.

د ایران او واشنګټن په اړیکو کې کړکېچ تېر کال وروسته له هغې زیات شو، چې ولسمشر ټرمپ په مې میاشت کې له ایران سره له اټومي تړونه د امریکا وتل اعلان کړل او پر دغه هېواد یې بندیزونه بیا ولګول.

دغو بندیزونو تر ډېره د ایران د تېلو صادرات او د بانکونو سیستم په نښه کړي دي.

ایران د دغو بندیزونو په ځواب کې سږ کال د مې په اتمه د اټومي تړون نورو لاسلیک کوونکو هېوادونو ته خبرداری ورکړ، چې که پر خپلو ژمنو عمل ونه کړي، نو تهران به د دې هوکړې له مخې د خپلو مکلفیتونو په ژمنو کې کموالی راولي، خو له دې یوه ورځ وروسته د یاد تړون اروپایي لاسلیک کوونکو له دې هوکړې د ملاتړ د اعلان ترڅنګ، د ایران له خوا هر راز مهلت رد کړ.

د اروپایي ټولنې د بهرنۍ پالیسۍ مشرې فېډریکا موګیریني، د بریټانیا، فرانسې او جرمني د بهرنیو چارو وزیرانو په یوه ګډ بیان کې پر تهران غږ وکړ چې له پاروونکو اقداماتو ډډه وکړي.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### دیارلسم څپرکی
### څنگه د رهبر په څېر فکر وکړو؟




په سختو حالاتو کې د لوی فکر جادو وکاروئ
په لوی فکر کې جادو دی، خو له انسانه زر هېرېږي. له ستونزو سره د مخ کېدو پرمهال، دا خطر وي چې موږ دې خپل فکر را کوچنی کړو او د دې کار پایله ماتې ده.
دلته ځینې لارښوونې دي، دا درسره مرسته کوي چې په کړکېچن حالت کې ترې گټه واخلئ:
الف. د وړو خلکو په مقابل کې لوی فکر وکړئ.
دې کې شک نشته چې هر ځای کې به ستاسې دښمنان او بدخواهان وي. دوی ستاسې بده ورځ غواړي، په خپگان مو خوشالېږي، رټي مو، خو که تاسې دې ټکو ته پام وکړئ، نو بیا دوی نه بریالي کېږي:
۱. ستاسې برې په دې کې دی چې له وړو خلکو سره مه بوختېږئ. ټیټ او پست خلک تاسې خپلې کچې ته ور ټیټوي. خپل لویوالی وساتئ.
۲. د رټنو او ځورونو په تمه اوسئ، دا ستاسې د ودې نښه ده.
۳. دا یاد ساتئ چې دغه بدخواهان او رټونکي خلک رواني ناروغان دي. لوی فکر وکړئ او زړه پرې وسېځئ.
دومره لوی شئ، چې د دوی دربانده‌ې زور و نه رسېږي.
ب. که ځان درته کوچنی او وروسته پاتې ښکاره شو، لوی فکر وکړئ.
دا یاد ساتئ: که ځان درته کمزوری، ناپوهه او نالایقه ښکاري، یا ځان عادي او بې ارزښته کس گڼئ، همداسې به کمزوری، ناپوهه، نالایقه، عادي او بې ارزښته انسان یئ.
په څو لارو دغه احساس ځان کې ختمولای شئ:
۱. ځان مهم کړئ، دا درسره مهم فکر کې مرسته کوي. ستاسې ظاهر که څه هم بهرنی موضوع ده، خو ستاسې پر باطن ډېر اغېز کوي.
۲. پر خپلو شتمنیو تمرکز وکړئ. د خپل ارزښت پېژندلو لپاره یوه خبرتیا جوړه کړئ او کار ترې واخلئ. ځان ته رواني قوت ورکړئ. خپل د قوت ټکي او مثبت اړخونه وپېژنئ.
۳. د خلکو په اړه سم او منظم لیدلوری ولرئ، نور خلک هم انسانان دي، نو ولې ترې وېرېږئ؟
لوی فکر وکړئ چې په خپل لویوالي پوه شئ!
ج. د بحث او مشاجرې پر وخت لوی فکر وکړئ.
په لانجو او دعوو کې له دې لارو مقاومت وکړئ:
۱. ځان وپوښتئ: (دا موضوع رښتیا په بحث ارزي؟)
۲. دا یاد ساتئ چې بحث د اټومي جگړې په څېر هېڅ گټونکی نه لري.
دومره لوی فکر وکړئ، چې پر دې پوه شئ چې لانجې، دعوې، کرکې و کینې درته گټه نه لري.
د. د ماتې پر وخت لوی فکر وکړئ.
پرته له سختیو او کړاونو منزل ته نه رسېږئ، خو پاتې ژوند د ماتې له احساسه پرته کولای شئ. د لویوالي لپاره، سختیو او کړاونو ته داسې غبرگون ښیئ:
۱. ماتې او خنډونه تجربه وگڼئ او درس ترې واخلئ. ویې اروزئ. په پرمختگ کې ترې گټه واخلئ او څه ترې زده کړئ.
۲. تعقیب له تجربې سره گډ کړئ. له ماتې وروسته شاته لاړ شئ، تازه ساه واخلئ او بیا رامخکې شئ.
ه. که اړیکې مو تتې شوې، لوی فکر وکړئ.
منفي او عادي فکرونه مینه وژني. مثلاً هغه راسره بد کړي، زه به ترې بدل اخلم. دا درنه مینه اخلي، د مینې په برخه کې چې له ستونزې سره مخ شوئ دا کارونه وکړئ:
۱. که غواړئ څوک درسره مینه وکړي، نو د هغوی په لویو وړتیاوو تکیه وکړئ. واړه شیان د دویمې درجې دي، دویمه درجه کې یې پرېږدئ.
۲. ځینې وخت د خپل ژوند ملگري/ملگرې لپاره ځینې ځانگړي کارونه وکړئ، دا کار کېږي.
دومره لوی فکر وکړئ، چې د گډ ژوند په خوند پوه شئ.
و. که کار کې مو پرمختگ ورو و، نو لوی فکر وکړئ.
هر کار کې پرمختگ او امتیاز په دې کار زیاتېږي:
(کمیت او کیفیت لوړول.)
ځان ته ووایئ: (زه دا کار تر دې ښه کولای شم.) ښه کار ناممکنه نه وي، په نړۍ کې داسې شی نشته چې سم دې نه وي ترسره شوی. که تاسې داسې فکر وکړئ چې (دا کار تر دې ښه کولای شم.) د ښه کېدو لارې یې هم پیدا کېږي. همدا خبره ستاسې نوښت فعالوي.
دومره لوی فکر وکړئ چې که ستاسې موخه خدمت وي، نو پیسې ورپسې خپله راځي.
د پوبیلیس سیریس دا خبره یاد ساتئ:
هوښیار انسان به د خپل ذهن بادار
او کــم عقــل بــه یــې غــلام وي.

**پــای**

# بروني

حشمت الله نوري



بـروني د آسیا پـه جنـوب ختیځـه برخـه کې د جنـوبي چیـن د سیند او مالیزیـا تـر منځ د شمالي عـرض البلدونـو د څلورو او پنځـو درجـو او د ختیـځ طـول البلدونـو د ۱۱۴ او ۱۱۵ درجـو تـر منځ مـو قعیت لـري، چې پراخوالـی یې ۲۲۲۸ میل مربع ته رسېږي.
بـروني د استـوا لـه کرښـې څخـه د شمالي عـرض البلدونـو د څلورو او پنځـو درجـو پـه واټـن کـې لـرې پـروت دی، نـو لـه همـدې املـه یـې هوا ډېـره تـوده او لنـده ده او زیات بـاران پکـې اوري. په دغه هېواد کې داسـې استوایي او سـمندري بادونـه الـوزي، چې زیات اورښـت تـه لاره هـواروي. پـه ساحلي څنـډو کـې د بـروني د کلنـي اورښـت اندازه ۲۵۴ او د هېـواد پـه منځنیـو برخو کې ۵۰۹ مـلي مېـتر تـه رسـېږي.
بـروني لـه دوو بېلـو برخـو څخـه جـوړ شـوی کوچنـی هېـواد دی. د اصلي بـروني خـاوره لړ، هواره او سـاحلي ټوټه ده چې د سـمندر لـه سـطحې څخـه ۳۰۰ متـره جگـه پرته ده.
د دغـه هېـواد پلازمېنـه بنـدر سري بـگاوان ښـار دی او ټولټـال یـې د نفـوس شـمېر څه بانـدې څلـورو سـوو زرو کسـانو تـه رسـېږي، چې پـه هـر کیلومـتر مربـع سیمه کـې یې ۷۶ کسـان ژونـد کـوي. د دغـه هېـواد ۸۰ سـلنه وگـړي پـه ښـارونو او ۲۰ سـلنه یې بیا پـه کلیـو او بانـډو کـې ژونـد کـوي. د بـروني د قانـون لـه مخـې، هـره کورنۍ پـه ټول عمر کـې یـوازې د دوو ماشـومانو د درلـودو حـق لـري.
د اداري وېـش لـه پلـوه دغـه هېـواد پـر څلـورو ولسـوالیو بانـدې وېشـل شـوی دی. سریـا، کوالابیلایت، توتونـگ او بانـگار یـې مهـم ښـارونه دي. د دغـه هېـواد ۷۰ سـلنه وگـړي مالي نـژاده، ۱۵ سـلنه چینایي نژاده او پاتـې ۱۵ سـلنه یـې کادازان توتونـگ دوسـون نـژاده وگـړي دي. د دغـه هېـواد رسـمي ژبـه مـالي او لیکدود یې عـربي دی.
د بـروني د حکومـت ډول مشروطـه پاچایـي دی، د دغـه هېـواد اساسـي قانـون لـه خپلواکـۍ څخـه مخکـې د ۱۹۵۹ ز کال د سـپټمبر په ۲۹مه جوړ شـو، چې په ۱۹۶۵ او ۱۹۸۴ ز کلونـو کـې تعدیـلات پکـې راغلـل. د بـروني اوسـنی سـلطان حاجي حسـن البلقیـه دی، پـه دغـه هېـواد کـې پاچایـي میراثي ده او د وزیرانو کابینه یې د پاچـا لخـوا ټـاکل کیـږي.
پـه دغـه هېـواد کـې درې شـوراگانې شـته، لومـړۍ مذهبـي شـورا چـې سـلطان تـه د اسلام د دیـن پـه اړه مشـوره ورکـوي، دویمه محرامانـه سلطنتي شـورا چې لـه سـلطان سـره د قانـون جوړونـې، قانوني تعدیلاتـو او د مبهمـو مناصبـو لپـاره د خلکـو د ټاکنې پـه برخـه کـې مرسـته کـوي، دریېمـه د وراثـت شـورا چې د ضرورت پـه وخت کـې راغوښـتل کیـږي. د دغـو دریـو واړو شـوراگانو غـړي د پاچـا لخـوا ټـاکل کیـږي او د پاچـا تـر امـر لانـدې کار کـوي.
د بـروني د قانـون جوړولو شـورا پـه تېرو شلو کلونـو کـې د لومـړي ځـل لپـاره د ۲۰۰۴ ز کال د سـپټمبر پـه ۲۵مـه غونډه وکـړه، دغه شـورا ۲۱ غـړي لـري چې ټول د سـلطان له خوا ټاکل شـوي دي، دغې شـورا د اساسي قانـون داسـې تعدیـلات منظور کـړل چې له مخـې به یـې دغه هېواد داسـې ۴۵ کسـیزه شـورا لـري، چې ۱۵ یـې انتخابي وي، دغه شـورا جوړه شـوه خو سلطان د ۲۰۰۵ ز کال د سـپټمبر پـه لومړۍ نېټه بېرتـه ړنگه کړه او پـر ځـای یـې د ۲۰۰۵ ز کال د سـپټمبر پـه دویمـه شـورا جوړه کـړه چې ۲۹ غـړي لري.
د بـروني حقوقي نظـام د اسلامي شریعت پـر اساسـاتو، انگلیسـي قوانینـو او مدني اصولـو ولاړ دی. د دغـه هېـواد لـوړ قضایـي ارگان سـتره محکمـه ده، چـې قاضي القضـات او قاضیـان یـې د پاچـا لـه خـوا د دریـو کلونـو لپـاره ټـاکل کېـږي.
د بـروني د مـلي پراختیـا گونـد، د بـروني د مـلي یـوالي گونـد او د خلکـو د خبرتیا گوند د دغـه هېـواد مهـم او نفوذ لرونکـي گوندونه دي.
دغـه هېـواد د ۱۹۸۴ ز کال د جنـوري پـه لومړۍ نېټـه لـه انگلسـتان څخـه خپلواکي واخیسـته او هـر کال د فـبروي ۲۳مـه پـه دغـه هېـواد کـې د خپلواکـۍ د ورځـې پـه نـوم نمانځـل کېـږي.
بهرنـۍ او کورنـۍ پانگـه اچونـه، مناسـب دولتـي مقـررات، د ټولنیزې هوسـاینې لپاره گړنـدي گامونه، کلیـوال عنعنـوي چاپېریال او همـدا راز د اومـو تېلـو او طبیعـي گازو صـادرات د دغـه هېـواد پـه اقتصـاد کې غټه ونـډه لـري. دغـه اقـلام د بـروني د ناخالـص کـورني تولیـد نیمایـي برخـه جوړوي، د بـروني سرکلنـی عایـد د ډېـرو اسـیایي هېوادونـو او نـږدې د دریېمـې نـړۍ د ټولـو هېوادونـو لـه کلنـي عایـد څخـه زیات دی.
دغـه هېـواد پـه بهـر کـې لـه خپلـو پانگـو او کـورني تولیـد څخـه هـم پـوره عایـد لاس ته راوړي. د بـروني دولـت روغتیایي خدمات او پوهنـه د پوهنتـون تـر سـویې پـورې پـه وړیا توگـه وړانـدې کـوي او د خوراکـي مـوادو او سرپنـاه لپـاره یې ډېره سبسـایدي منلې ده.
د دغـه هېـواد دولـت غـواړي چـې پـر تېلـو او گازو بانـدې د بـروني د اقتصـاد اتـکا لـږ او نور اقتصـادي پرمختگونـه وهڅـوي. د بروني دولـت اندېښـنه لـري چـې نړیـوال مارکېټ تـه بـه د بـروني ډېـر ننوتـل د دغـه هېـواد کـورني ټولنیز جوړښـت تـه زیان ورسـوي. پـه ۲۰۰۰ ز کال کـې بـروني د اسـیا پاسـفیک د اقتصـادي ټولنـې ریاسـت تـر لاسـه کـړ، د بـروني دولـت پلان لـري چې د هېـواد د کار قـوه مسـلکي او متخصصـه او وزگارتیـا کمـه کـړي، بانکـي خدمـات وهڅـوي، سیلانیانو تـه ډېـرې اسـانتیاوې برابرې کـړي او پر تېلو او گازو سربېـره هېـواد تـه نـورې عایـداتي سرچینـې هـم لټـوي.
د تېلـو او گازو ایسـتل او چـاڼ، پتروشـیمي تولیـدات، اوبلـن گاز، سـاختماني چـارې، ټوکـران، کوچنـۍ بېـړۍ، سـپین زر او نـور لاسي کارونـه د دغـه هېـواد د صنعـت مهـم فکټـورونـه دي.
د دغـه هېـواد درې سـلنه ځمکـه د کرلـو وړ ده، یـو سـلنه خـاوره یـې څرځایونـو او پاتـې نـوره یـې ځنگلونـو، غرونـو، بیدیـاوو، سـیندونو، ښـارونو او د اسـتوگنې کلیوالـو سـیمو نیولـې ده.
د بـروني پنځـه سـلنه خلـک د کرنـې پـه سـکټور کـې پـر کار بوخـت دي او د دغـه هېـواد یـو سـلنه ناخالـص کـورني تولیـدات هـم لـه دغـه سـکټور څخـه لاس تـه راځـي. وریجـې، نشایسـته، خـواږه، کچالـو، کیلـه، نـورې میـوې، سـابه، غوښـه او هگـۍ د دغه هېـواد مهـم کرنیـز محصـولات گڼـل کیـږي.
اسـټرالیا، جاپـان، جنـوبي کوریـا، نیوزیلنډ، هنـد، اندونیزیا، چین، سـنگاپور، انگلسـتان او امریـکا د دغـه هېـواد لـوی تجارتي شریـکان دي. د دغـه هېـواد د ټلیفـون کـود ۰۰۶۷۳ او د انټرنېـټ کـود یـې BN دی، چـې ټولټـال یـې ۴۰۰ زره کسـان ورته لاسرسـی لـري.
دغـه هېـواد شـپږ ټلویزیـوني چینلونـه او پنځـه دولتـي راډیوگانـې لـري، چـې پـه مـالي، چینایـي او انگلیسـي ژبـو خپرونـې لـري.
بـروني د سـړي سرکلنـي عایـد لـه پلـوه، د آسـیا او نـړۍ پـه بډایـه هېوادونـو کې شـمار دی. د دغـه هېـواد لـه ۱۵ کلنـو څخـه پورته ټـول خلـک پـر لیـک او لوسـت پوهیـږي او زده کـړه پـه کـې لـه ۵-۱۶ کلنو ماشـومانو او تنکیـو ځوانانـو لپـاره جـبري او وړیـا ده.
پـه بـروني کـې د ډېـرو لرغونـو انسـانانو اسـتوگنه ثابتـه ده، دغـو خلکـو پـه شـپږمه پېـړۍ کـې چیـن او پـه ۱۴مـه کـې د جـاوا د ټاپـو هنـدي واکمـن ماجاپاهیـت تـه بـاج ورکاوه. د ۱۴مـې پېړۍ پـه پـای کـې برونایـي واکمـن آوانـگ آلاک بتاتار د اسلام پـر دیـن مـشرف شـو او ځـان یـې لومـړی سـلطان شـاه محمـد وباله. لـه همـدې وخته پـه جنـوب ختیځـه آسیا کـې د اسـلام دین خـور شـو، پـه ۱۵۲۱ ز کال کـې پرتگالي ماجیـلا پـه داسـې وخـت کـې د بـروني سـاحل ته ورسـېد، چـې د دغه هېـواد پنځم مسـلمان سـلطان د بورنیـو پـه غـټ ټاپـو د سـولو د ټاپوگانـو پـه ټولگـې جـاوا او مـالاکا او حتـې د مانیـلا پـه ځینو برخـو او د هغو پر شـاوخوا ټاپوگانـو بانـدې واکمنـي درلـوده.
تـر ۱۶مـې پېړۍ پورې د صباح او سـاراواک زیاتـې برخـې هـم د بـروني د لاسلامي سـلطنت لخـوا اداره کېـدې، بـروني هغـه وخـت د چیـن لـه جنـوبي بندرونـو سره ډېره تجـارتي راکـړه ورکـړه درلـوده، پـه ۱۸۰۳ ز کال کـې انگلیـسي افسر سر جیمـز بـروک سـاراواک تـه ورسـېد او پـه دې توگـه بـروني تـه د اروپایانـو تگ پیـل شـو.
د ۱۶مـې پېړۍ پـه پـای کـې پـه بـروني کې کورنیـو سـتونزو او د دغـه هېـواد پـه شـاوخوا کـې د پرتگالیانـو او هالنډیانـو سیاسي او پوځـي تحرکاتـو د بـروني پراخـه او پیاوړې واکمنـي ولړزولـه او د لنـډې مـودې لپـاره د اسـپانیې د سـمندري پوځونـو لاس تـه ورغـی. لـه دې وروسـته د بـروني واکمنـي کمـزورې شـوه، د ۱۸مـې پېړۍ پـه بهیر کې بـروني د سـمندري پوځونو لاس تـه ورغی او لـه دې غلـو یـوه اډه جوړه شـوه. پـه ۱۸۳۸ ز کال کـې د بـروني سـلطان عمر علي سیف الدیـن پـه سـاراواک کـې د بغـاوت پـه کولـو سره د مرسـتې پـه پـار، انگلیـسي سرجیمـز بـروک د سـاراواک د واکمـن پـه توگـه وټاکه او دغـه سـیمه یـې ده تـه ورکـړه. پـه ۱۸۴۶ ز کال کـې د بـروني او انگلسـتان تـر منځ د سـمندري غلـو پـر ضـد د گډو هلـو ځلـو او سـوداگرۍ توافقنامـه لاسلیک شـوه او د بورنیـو پـه شـمال لوېدیځ کـې یـې د لابوان ټاپـو انگلسـتان تـه ورکـړ. پـه ۱۹۶۷ ز کال کـې سـلطان عمر خپـل زوی حسـن البلیقه معزالدین ته پرېښـود، پـه همدغه وخت کې د بـروني لومړنـی بشـپړ اساسـي قانـون هـم نافذ شـو، پـه ۱۹۷۱ ز کال کـې انگلسـتان د بـروني دفاعـي چـارې هـم سـلطان تـه وسـپارلې، لـه دې وروسـته پـه نـړۍ کـې د خپلواکـۍ غوښـتنې د احساسـاتو لـه پیاوړتیـا سره جوخت، د انگلستان حکومت د بـروني د خلکـو د فشـار له امله پـه ۱۹۷۸ ز کال کـې د داسـې یـوه تـړون لاسـلیک کولـو تـه غـاړه کېښـوده، چـې د بـروني د پـوره خپلواکـۍ لپـاره یـې لار پرانیسـتله. پـه ۱۹۸۰ ز کال کـې د بـروني سـلطان د خپـل هېـواد ۲۵ سـنله بودجـه پـوره کـړه، د ۱۹۸۴ ز کال د ډسـمبر پـه وروسـتۍ ورځ د بـگاوان پـه جومـات کـې د سـترې غونډې پـه تـرڅ کـې د درې ځلـه تکبیر په ویلـو سره، د بـروني بشـپړه خپلواکـي اعـلان شـوه.
د افغانسـتان او بـروني تـر منـځ هېـڅ راز اړیکـې نشـته، د کابـل او بنـدر سرې بگاوان ښـارونو تـر منـځ زماني توپیـر ۳:۳۰ سـاعته او همـدا راز د هـوا لـه لارې واټـن ۸۵۴۲ کیلومـتره دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۳۵ |
| € | ۹۰,۲۰ |
| Rp. | ۵۱۱ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۹۹,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# انسانان په ټوله کې د ستاينې تږي دي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

د مينې او عزت نفس د برخې متخصص او مشهور ارواپوه ناتانیل براندن وايي: «دا چې خلک ځان ته څومره ارزښت ورکوي، له دې پرته بل ارزښتناک او مهم شی نشته، خو کله کله په ژوند کې داسې پېښې رامنځته کېږي، چې انسان د یوازېتوب او بې ارزښتۍ احساس وکړي.» په اصل کې ټول انسانان هغه که ماشوم وي، پنځوس کلن وي او یا هم اویا کلن؛ غواړي د نورو له خوا وستایل شي. دوی د دې ورتیا نه لري، چې ځان پخپله وستایي؛ ځکه پر ځان یې باور کم وي. که په دې برخه کې شک لرې، کولی شی دغه ازموینه ترسره کړئ!

له څو کسانو څخه چې ورسره پېژنی، وغواړی چې په یوه پاڼه کاغذ کې د خپل شخصیت د قوت ټکي ولیکي. وبه ګوری چې هر یوه به یې لږ تر لږه شپږ یا اووه موارد ذکر کړي وي، خو که له همدې کسانو څخه وغواړی، چې د خپل شخصیت د ضعف ټکي بیان کړی، کېدای شي د هر یوه د ضعف ټکي د قوت د ټکو دوه برابره وي، چې دغه څه پر ځان د باور نشتوالی په ګوته کوي.»

د اتلسمې پېړۍ لیکوال او نقاد ساموېل جانسون وايي: «پر ځان باور د لویو کارونو د ترسره کولو لپاره لومړۍ اړتیا ده.» پر ځان باور او د عزت نفس، د انسان په ژوند کې ډېر اغېز لري. د پنسلوانیا پوهنتون استاد او ارواپوه مارټین سلیګمن وايي: «هغه کسان چې پر ځان یې باور زیات او د نفس عزت کچه یې لوړه وي، تر نورو ښې دندې پیدا کوي او په خپله دنده کې تر هغو کسانو ډېر بریالي دي، چې پر ځان یې باور کم وي.»

د بیمې د یوه بل شرکت څېړنې په ګوته کوي، هغه کسان چې پر ځان باوري وو او د بریا تمه یې درلوده، په یوه کال کې یې د هغو کسانو په پرتله، چې له دې ځانګړنې بې برخې وو، ۳۷ سلنه زیات پلور کړی و.

که غواړی، له خلکو سره مرسته وکړی چې ژوند یې ښه شي، په کار کې یې بریالي شي، اړیکې یې پراخې ش؛ هڅه وکړئ چې داسې یو کار ترسره کړی چې ځان یې ورته مهم شي، پر ځان یې باور زیات شي او د عزت نفس یې لوړ شي. دا یې د ژوند پر هرې برخې اغېز کوي. کله چې دوی له دغو شرایطو او فرصت ګټه پورته کړي، ستاسو منندوی به وي.

ډاډ ګېرنه د ژوند مهمه اړتیا ده. کله چې څوک د یوازېتوب او لرېوالي احساس وکړي، له ګڼو ستونزو سره مخ کېږي. البرټ لالوند د لرېوالي او یوازېتوب په اړه وايي: «د ننني نړۍ ډېری ځوانانو تر اوسه پورې ژوره مینه او د زړه تړون نه دی تجربه کړی؛ ځکه دوی نه پوهېږي، چې څه ډول مینه وکړي او یا مینه ورسره وشي.»

پیاوړي رهبران دا ورتیا لري، هغوی پوهېږي چې څه ډول خپل کسان په ځان پورې وتړي. ناپلیون بناپارت د دې برخې استاد و. هغه خپل ټول عسکر په نامه پېژندل او کله به یې چې ورسره خبرې کولې، نوم به یې ورته اخیست. ده به چې کله له خپلو عسکرو سره خبرې کولې، له هر یوه څخه به یې د هغه د کورنۍ، مېرمنې او هغه ښار په اړه پوښتل چې ژوند به یې پکې کاوه. نوموړي به هغه جګړو ته اشاره کوله چې پوهېده به مخامخ ولاړ عسکر پکې برخه اخیستې ده. د ناپلیون دې ډول چلند عسکرو ته له ده سره د تړون او وابستګۍ احساس ور کاوه. دا خبره هم بې بنسټه نه ده چې کسانو یې په خپل رهبر (ناپلیون) باندې سر ورکاوه.

بله ګټه چې د پاملرنې له کبله د خلکو په برخه کېږي، هغه دا ده چې ځان ته یې پام کېږي. دوی له ځان سره فکر کوي، چې زه هم یو څوک یم او ارزښت لرم؛ ځکه پلانی په دومره لویوالي ماته احترام کوي او پاملرنه راته کوي. له بده مرغه نن سبا د ځان په اړه د نورو له خوا دومره منفي خبرې راته اورول کېږي، چې د ځان ارزښت مو هېر شي او پر ځان باور له لاسه ورکړو.

ټول کسان، ان مشهور نارینه او ښځینه هم غواړي د نورو له خوا وستایل شي او درناوی ورته وشي.

**د مهم والي احساس!**

هغه څوک چې ځان ته درناوی کوي او په دې اند وي چې زه یو ځانګړی کس یم، حتماً د نورو له خوا هم درناوی ورته کېږي، یعنې دا یې د عزت نفس او پر ځان د باور ښکارندویي کوي. کله چې نور ته مینه ورکړی او پاملرنه ورته کوی، پرته له دې چې کومه تمه ترې ولرئ، هغوی د لویوالي احساس کوي. فکر کوي، چې نورو ته د درناوي وړ دي او نورو ته ارزښت لري. کله چې د ډېر وخت لپاره همداسې مثبت فکر ورسره وي، کولی شي نورو ته هم په درناوي قایل شي، چې دا د یوه انسان په ژوند کې ډېر لوی بدلون دی.

**هیله!**

مشهور لیکوال مارک ټواین وايي، هغه کسان چې هیلو او ارزښتونو ته مو په ټیټه سترګه ګوري، ځان لرې ترې وساتئ. کوچني خلک دغه ډول عادت لري، خو لوی کسان مو بیا هڅوي، احساس درکوي او درته وايي، چې تاسو هرومرو خپل هیلو ته رسېدای شی.

کله چې د خلکو په منځ کې یاست، په اړه یې څه فکر کوئ؟ ایا فکر کوی چې کم ظرفیته دي او که وایاست چې نه پر ځان باوري دي او خپلو هیلو ته رسېدای شي؟ له خلکو سره ستاسو چلند په دې پورې اړه لري، چې تاسو یې په اړه څه ډول فکر کوی. له خلکو سره ستاسو سلوک ستاسو د باور او نیت څرګندونه کوي. ګوېټه وايي: «هیله کېدای شي تر ټولو ښه ډالۍ وي چې کولی شی خلکو ته یې ورکړی».

ډېنس ریني په خپل کتاب (د ژوند د ملګري عزت نفس مو لوړ کړی) کې یوې جالبې کیسې ته اشاره کوي چې څرګندوي، څه ډول نورو ته هیله ورکول د هغوی بالقوه وړتیاوې لوړوي؟ هغه وايي:« په ښوونځي کې د (تامي) په نوم یو هلک و چې په ژوند کې له ډېرو ستونزمنو شرایطو سره مخ و. هلک به په پر له پسې ډول له ښوونکي پوښتنه کوله، خو د ښوونکي په ځواب نه پوهېده. اخر یې ښوونکی له خپل دې زده کوونکي څخه ناهیلی شو او ورته وې ویل، ته باید نور درس ویل پرېږدې، ښه ده چې د ځان لپاره یو بل کاروبار غوره کړې.

خو مور یې په کور کې خپل زوی ته درس ویل پیل کړل. تامي داسې مور درلوده چې په خپل زوی یې پوره باوري وه. مور یې خپل زوی، تامي وهڅاوه، څو خپل درس ویلو او هڅو ته ادامه ورکړي».

پوهېږئ تامي څه شی شو؟ هغه مخترع شو. د هغه نوم توماس اډیسن و. کله چې څوک پر ځان باوري وي، د دې خبرې وړاندوینه کول چې څه کاره به شي، سخته ده؛ ځکه هڅه او باور د غرونو لوړې څوکې فتحه کولی شي.


کېدای شي تاسو له مور څخه روزونکي نه وی پیدا شوي. د ډېرو لپاره نورو ته مینه ورکول او نازول سخت وي. په تېره بیا که په داسې یوه چاپېریال کې را لوی شوي وي چې مینه او مینه ورکول پکې کم وي. خو ټول انسانان دا ځانګړنه لري چې مینه ورکول زده کړي.

# پامپیو: امریکایان باید خوښ وي چې افغانان په ګډه خپله راتلونکې ټاکي

د امریکا د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په قطر کې د پیل شویو بین‌الافغاني مذاکراتو په اړه خوشبیني ښکاره کړې ده.

پامپیو په یوه ټویټ کې لیکلي چې د قطر بین‌الافغاني کنفرانس لپاره له ډېر وخت راهیسې کار روان و. هغه ویلي چې امریکایان باید خوشاله وي چې افغانان په خپلو کې سره خبرو ته کېناستل.

نوموړي لیکلي: «ټول امریکایان باید خوښ وي چې افغانان له افغانانو سره کېني چې د خپل هېواد د جګړې د ختمولو سخت کار پیل کړي او خپله راتلونکې په ګډه وټاکي.



دا ښه خبره ده چې مخورې حکومتي څېرې، مدني ټولنې، ښځې او د طالبانو استازي په یو مېز لیدل کېږي».

پامپیو داسې مهال دا خبره کوي چې په قطر کې بین‌الافغاني مذاکرات پیل شوي دي. د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد خبریالانو ته ویلي چې په خبرو کې پرمختګ شوی دی، خو لا کومه پرېکړه نه ده شوې. افغان حکومت دغې غونډې ته خپل کوم رسمي استازی نه دی استولی، خو د غونډې تنظیموونکي سلطان برکات ویلي چې په غونډه کې د هرې برخې خلک او څېرې شته چې په خپل شخصي ظرفیت په غونډه کې برخه لري.

د قطر د بهرنیو چارو وزارت د ترهګرۍ ضد چارو ځانګړي استازي خبریالانو ته ویلي چې دوی د افغانستان د راتلونکې لپاره د «لارې یوه نقشه» غواړي.


بلخوا د افغانستان د سولې عالي شورا د پلاوي غړې اصیلې وردګ چې په دې غونډه کې برخه لري، ویلي چې هر یو ګډونوال پر اوربند ټینګار کوي.

# حکمتیار: هر کال ۱۲۰ زره افغانان د جګړې له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي

د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار تېره ورځ په کابل کې د یوې خبرې ناستې پر مهال ویلي چې مثبت، سوله ییز او اصولي بدلون غواړي. هغه زیاته کړې چې په هېواد کې سیاسي واک باید له جګړې پرته ولېږدول شي.

حکمتیار ویلي، چې ستر ملي مسایل لکه سوله، د جګړې ختمول، ټاکنې، راتلونکی نظام، له غبرګولي وروسته د ملي وحدت حکومت مشروعیت او نه مشروعیت او داسې نور مسایل باید د تفاهم له لارې حل شي.

حکمتیار د سولې په تړاو د وسله والو طالبانو او امریکا د ځانګړي استازي له روانو خبرو ملاتړ کړی، ویلي یې دي: «د طالبانو او امریکا توافق یوازې د دوی تر منځ ستونزه



حل کولای شي او نورې ستونزې په خپل ځای پاتې دي».

د ده په وینا، امریکایي لوري ویلي چې له طالبانو سره پر څلورو موضوعاتو د یوې بستې په توګه توافق کوي، خو پر دوو موضوعاتو چې اوربند او بین‌الافغاني ناسته ده، هېڅ توافق نه دی شوی.

حکمتیار زیاته کړې: «دوه اساسي موضوعات چې د ټولو موضوعاتو اصل دی، توافق پرې نه دی شوی، دوی غوښتل چې د بین‌الافغاني ناستې خلا پر دې غونډه چې نن په دوحه کې جوړه شوې، ډکه کړي چې دا په هېڅ صورت بین‌الافغاني خبرې نه شي کېدای».

هغه ویلي چې د حزب اسلامي ځینې خواخوږي د قطر یادې بین‌الافغاني غونډې ته د دوو بهرنیو هېوادونو له خوا وربلل شوي او ګډون یې پکې کړی، خو دغه ګوند په رسمي ډول دې غونډې ته نه دی وربلل شوی.

حکمتیار د جګړې پر پای ته رسېدو ټینګار کړی او ویلي یې دي چې جګړې د افغانانو هر څه له منځه وړي او هر کال شاوخوا ۱۲۰ زره افغانان په جګړو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي.

د نوموړي په خبره، جنګ غوښتونکي او هغه هېوادونه چې خپلې ګټې یې د جګړې له دوام سره تړلې، غواړي د جګړې د دوام لپاره شرایط برابر کړي او په وینا یې که چېرې دغه پانګونه بنده شي، جګړه به ډېر ژر پای ومومي.

مسير ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily

New Vision, New Journey






المبارک توریستي شرکت

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA

0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ ۱۷مه | د ۲۰۱۹ د جولای اتمه | دریم کال | ٤٠٠مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| ښار | لوړه | ټیټه |
|---|---|---|
| کابل | ۳٦ | ۱۷ |
| هرات | ۳۷ | ۲٤ |
| کندهار | ۳۸ | ۲٥ |
| بلخ | ٤٠ | ۲۷ |
| ننګرهار | ۳۹ | ۲۸ |
| خوست | ۳٥ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۳ | لمر ختل ۰٤:٤۹ | ماسپښین ۱۱:٥۹ | مازیګر ۰۳:٤٥ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:٥٤

## نړۍ



# عراقچي: که نړیوال خپلې ژمنې پوره نه کړي، ایران به له اټومي تړونه په بشپړ ډول ووځي

۳

## امریکا له جرمني غوښتي چې سوریې ته پلي ځواکونه ولېږي



د متحده ایالتونو یوه لوړپوړي چارواکي ویلي، امریکا له جرمني غوښتي چې د سوریې د ډیموکراټیکو ځواکونو د همکارۍ لپاره د سوریې شمال ته پلي ځواکونه ولېږي.
دا په داسې حال کې ده چې د سوریې ډیموکراټیک ځواکونه چې کُردان یې مشري کوي، د سوریې په شمال کې دېره دي.
د سوریې او اسلامي دولت ډلې پر خلاف د تشکیل شوي ائتلاف لپاره د امریکا ځانګړي استازي جېمز جیفري په تازه مرکه کې ویلي: «واشنګټن د جرمني له پوځه غواړي چې روزنیز ځواکونه، لوجستیکي متخصصان او تخنیکي کارکوونکي ولېږي».
جېفري په دې اړه د جرمني له ویلت ابم سونتاګ ورځپاڼې او د جرمني له خبري اژانس سره خبرې کړې دي.
جیفري ویلي، له جرمني غواړي چې سوریې ته پلي ځواکونه ولېږي، چې تر یوه حده د امریکایي ځواکونو ځای ونیسي.
د سوریې لپاره د امریکا ځانګړي استازي دغه راز ویلي، تمه لري چې د رواني میلادي میاشتې تر پای مخکې په دې اړه د برلین ځواب تر لاسه کړي.
امریکایي ځواکونه د سوریې د ولسمشر بشارالاسد د حکومت او د اسلامي دولت ډلې پر خلاف په مبارزه کې د سوریې د ډیموکراټیکو ځواکونو ملاتړ کوي.
دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ د تېر کال په ډسمبر میاشت کې اعلان وکړ چې په پام کې لري، د سوریې له شماله ټول ۲۰۰۰ امریکایي پوځیان وباسي.

## ترکیه: امنیتي ځواکونو د عراق په شمال کې د (پي کې کې) ٦۱ جنګیالي وژلي دي



د ترکیې دفاع وزارت ویلي، امنیتي ځواکونو د دغه هېواد په شمال کې د کردانو د کارګر ګوند یا پي کې کې ٦۱ جنګیالي وژلي دي.
د ترکیې دفاع وزارت په یوه بیان کې ویلي، چې له یوې میاشتې راپدېخوا یې په ترکیه او د عراق د شمال په هاکورک کې د پي کې کې پر وړاندې عملیات پیل کړي، چې په دغو عملیاتو کې د یادې ډلې ٦۱ جنګیالي وژل شوي او په لسګونو نور ټپیان شوي دي.
په بیانیه کې راغلي چې امنیتي ځواکونو د کردانو د کارګر ګوند ۱٥۱ پټنځایونه له منځه وړي او دغه راز یې د عملیاتو په جریان کې ۱۱۰ ماینونه هم شنډ کړي دي.
دا په داسې حال کې ده چې د ترکیې دفاع وزارت تېره میلادي میاشت اعلان وکړ، چې د دغه هېواد د کردانو د کارګر ګوند یا پي کې کې پر وړاندې عملیات پیلوي.
د یادونې ده چې ترکیه د کردانو کارګر ګوند یا پي کې کې تروریستي ډله بولي او وخت ناوخت د امریکا په ګډون، ځینې لوېدیځ هېوادونه د دغې ډلې پر ملاتړ تورنوي، خو لوېدیځ بیا د ترکیې دغه تورونه ردوي.

## معترضان: شاروالی کابل در استملاک جایدادهای ما خلاف قانون عمل می کند



مالکان جایدادها در قلعه‌چهٔ بینیحصار شهر کابل، مدعی اند که شاروالی جایدادهای آنها را در ساخت جاده تخریب نموده؛ اما خلاف قانون استملاک، پول جایدادها و نمرات زمین را نمی دهد.
آنها که دیروز در منطقهٔ قلعه‌چه تجمع کرده بودند، می گویند که جایدادهای آنها برای ساخت خط دوم سرک کابل- لوگر تخریب شده است.
شجاع حسین محسنی یک از اعتراض کننده‌گان که به نمایندگی از دیگران صحبت می کرد، گفته است: «شاروالی کابل به وظایف قانونی خود در زمینه استملاک جایدادهای سرک کابل- لوگر عمل نکرده است، ما معتضررین سمت غرب سرک، از این پروسه ملی استقبال کردیم، قبول کردیم که تقریباً همه سرک از سمت ما وسعت داده شود و همه موارد اختلافی را نیز با شاروالی توافق کردیم؛ اما شاروالی کابل بر خلاف قانون استملاک و برخلاف توافقی که با ما امضا کرده، حقوق قانونی استملاکی ما (قیمت جایدادها و نمره‌های بدیل) را نداده است، می‌خواهد جایداد ما را تخریب کند».
او افزوده است که آنها حدود چهار ماه پیش، به اساس تقاضای مقرر شاروالی اجازه دادند که برای گشایش این پروژه برخی جایدادها را تخریب نموده؛ اما اکنون بدون پرداخت قیمت جایدادها و نمرات بدیل، می‌خواهد که جایدادهای متباقی را نیز تخریب کند.
اعتراض کننده گان هشدار دادند که هر گاه پروسهٔ استملاک زمین‌ها عملی نشود، کار اعمار سرک را متوقف می‌سازند و اجازه نمی دهند که جایدادهای شان تخریب گردد.
در عین حال، نرگس مومند سخنگوی شاروالی کابل گفته است که موضوع استملاک، تنها مربوط این اداره نمی شود، بلکه چندین اداره به شمول محاکم، در آن سهیم می‌باشد.
او افزوده است که در مورد جایدادهایی که در سرک کابل– لوگر استملاک می‌شود، نیز مطابق قانون استملاک عمل می‌شود و بعد از طی مراحل، به آنها پول و نمرات زمین داده می‌شود.

## ژوند

## پنیر زړه قوي ساتي!



سبزي خوړونکي تر ډېره پر دې باور وو، چې غوړ لرونکي خواړه او پنیر د انسان پر پوست، رګونو، زړه او معده ناوړه اغېز پرېباسي.
خو تازه(Nature Medicine) مجلې داسې یوه څېړنه خپره کړې، هغه کسان چې پنیر خوري، کېدای شي اوږد عمر وکړي.
څېړنه په ډاګه کوي چې د پنیر په ځینو ډولونو کې داسې مواد موندل شوي، چې (sperm dine) نومیږي او د متابولېزم سلولي په عملیه کې برخه اخلي، کېدای شي د اوږده عمر لامل شي.
څېړنه زیاتوي، کله چې پر موږکانو تجربه وشوه، نو مالومه شوه چې د همدې موادو له کبله د موږکانو عمر اوږد شوی. پر دې سربېره، یاد مواد د زړه د ناروغیو او د زړه د عضلو د پړسېدو مخه نیسي( له لوړ فشار سره تړاو لري).
دا هم د یادونې ده چې له زړه سره د تړلو ستونزو په کمېدو کې ونډه لري یا په بله مانا پنیر زړه ته ښه دی.
پر ۸۰۰ ایټالویانو چې دوديز غذایي رژیم یې درلود او پنیر یې هم ډېره برخه وه، له څېړنو وروسته مالومه شوه چې دا کسان ٤۰٪ د زړه له ناروغیو خوندي وو. دا هم مالومه شوه چې د دوی د وینې فشار هم ټیټ و.

## د انسان هوښیار ذهن کوم دی؟



هوښیار ذهن هغه پوه او ویښ ذهن دی، چې په ورځنیو چارو کې ور څخه ګټه اخیستل کېږي. هوښیار ذهن د موخې درلودونکی، شنونکی، منطقي، انتقادي او واقعیت ته په کتو پرېکړه کوي. دغه ذهن معلومات له سرچینو څخه اخلي، په اړه یې فکر کوي، په ذهن کې یې له شته معلوماتو سره شریکوي او له هغه وروسته پرېکړه کوي. هوښیار ذهن هغه ځای دی، چې یوازې نوي معلومات په کې ذخیره کېږي.
(دینل کاهنمان) په خپل تر ټولو ډېر خرڅ شوي کتاب (تفکر سریع و آرام) کې لیکي، تاسو په دوه ډوله له خپل هوښیار ذهن څخه ګټه اخلئ. لومړی ډول یې تېز(سریع) تفکر دی، چې دې ته ذاتي تفکر هم وايي. تېز ذهن داسې دی لکه په ډېرو ترافیکوکې د موټر چلول، چې ډېر کله سملاسي پرېکړې او عمل ته اړتیا لري. له دې ډول ذهن څخه تر ډېره په ورځنیو چارو کې ګټه اخیستل کېږي. تاسو له دې ذهن څخه د ورځنیو چارو لپاره لکه ټلیفوني اړیکې ته ځواب ورکول، ایمېل ځوابول او مخامخ خبرې کولو کې ګټه اخلئ.